IslamHouse.com

Osoul Center



Pashto

پښتو

# د کفر شرعي حقیقت او مهم ضوابط

ليکوال: علي بن عبد العزيز الشبل

ژباړن: لقمان حکيم حکمت

# الكفر حقيقته الشرعية وضوابطه المهمة

تأليف

**علي بن عبد العزيز الشبل**

ترجمة

**لقمان حكيم حكمت**

PASHTO
بشتو

Osoul Center
www.osoulcenter.com

أُعد هذا الكتاب وصمِّم من قبل مركز أصول، وجميع الصور المستخدمة في التصميم يملك المركز حقوقها، وإن مركز أصول يتيح لكل مسلم طباعة الكتاب ونشره بأي وسيلة، بشرط الالتزام بالإشارة إلى المصدر، وعدم التغيير في النص، وفي حالة الطباعة يوصي المركز بالالتزام بمعاييره في جودة الطباعة.

+966 504 442 532
+966 11 445 4900
+966 11 497 0126
P.O.BOX 29465 Riyadh 11457
osoul@rabwah.com
www.osoulcenter.com

بسم الله الرحمن الرحيم



# لړلیک

| | |
|---|---|
| د ژباړن سریزه | ۹ |
| د لیکوال سریزه | ۱۱ |
| د اهل السنت والجماعت او د مخالفینو په نیز يې د کفر معنی | ۱۵ |
| د موضوع اهمیت | ۱۷ |
| د کفر لغوي معنی | ۲۵ |
| د کفر شرعي معنی | ۲۷ |
| د کفر د مختلفو انواعو په هکله مهمي قاعدي | ۳۳ |
| نیوکه او خبرداری | ۴۱ |
| پای | ۵۱ |



# د ژباړن سريزه

الحمدلله وحده، والصلاة والسلام على من لا نبي بعده، وبعد:

د تکفير مسئله نن سبا نهايت زيات اوج ته رسېدلې ده، دا مسئله نه جذبات غواړي او نه هم په جوش بنا ده، علمي مسله ده بايد په اسلامي اصولو او صحيحو دليلونو ودانه کړی شي.

بندګان او ټوله نړې چونکه د الله پاک ده، د بنده د تکفير حق هم د الله تعالى او د هغه رسول کريم ﷺ سره دی، نه څوک د چا په خوله کافر کيږي او نه پرې مسلمانيږي.

تکفير شروط لري، ضوابط او قانون لري، په دې خاطر چې د مسلمانانو شپې پکې ونه ښوئيږي، دا رساله که څه هم د حجم له نګاه نه وړه ده خو ولې له علمي انداز ښخه ډکه ده، شايد هغه خلک چې د دې موضوع اړوند مهم نقاط غواړي په دې يې تنده خړوب شي.

په پای کې له الله ښخه سوال کوم چې زما دا عمل په خپل دربار کې قبول کړي، او په دنيا او اخرت کې راته پرې نيکې بدلې را کړي.

وصلى الله على نبيه محمد وعلى اله و اصحابه اجمعين

**لقمان حکيم حکمت**



# د ليکوال سريزه

الحمدالله نحمده ونستعينه ونستغفره ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا من يهديه الله فلا مضل له ومن يضلل فلا هادي له وأشهد أن لا اله الا الله وحده لاشريک له، واشهد أن محمدا عبده ورسوله، صلي الله عليه وعلى آله وصحبه وسلم تسليما كثيرا.

امابعد:

دا څه کلمات دي چې ځينو دوستانو يې په خپرنې او نشرو اشاعت وهڅولم، شايد الله پاک پرې لوستونکو، خپرونکو، او اوريدونکو ته نفعه او فائده ورسوي، دغه څو کلمات پداسې مهم او اړين ترينو خبرو مشتمل دي چې ستونزومن اثر او سخت دريز مسلک او تګلاره لري دغه کلمات د

**[د کفر شرعي حقيقت او د مهم ضوابط]** څخه عبارت دي، د دې مسئلې پيژندل، د دې مسئلې خيال او مراعات ساتل، په دې مسئله کې سوچ او فکر کول د مسلمان انسان لازمي کار او واجبې دنده ده.

وړاندې له دې چې زه دغه مسئله په غور سره وڅيړم ورڅخه مخکې د ايمان په هکله مختصر او لنډ تمهيد ړدم چې د اهل السنت والجماعت او د هغوى د مخالفينو په اند ايمان څه معنى لري؟

امام ابن تيميه رحمه الله[١] د (عقيدة الواسطيه) په متن کې د اهل السنت

(١) خپل نوم يې احمد د پلار نوم يې عبدالحليم او د نيکه نوم يې عبدالسلام دى، د دوشنبې په ورځ د ربيع الاول په لسم (٦٦١ هـ) کې پيدا او د (٦٧) کالو په عمر کې په جيل کې وفات دى، په اوه کلنى کې د پلار په ملتيا دمشق ته د تتار له کبله مهاجر شوى و؟

والجماعت په اند د ایمان په هکله داسې وايي: اهل السنت والجماعت[1] د ایمان او د دین په نومونو کې د خوارجو[2] او د مرجئو[3] او جهمیو[4] و تر منځ دي.

❂ د اهل السنت والجماعت په وړاندې ایمان د ژبې له وینا (اقرار) او د بدني غړو (ارکانو او اعضاء) له عمل او د زړه له تصدیق څخه عبارت دی، چې د الله پاک په اطاعت او پیروۍ زیاتیږي، او له اوامرو څخه په سرغړونه او د شیطان په پیروۍ کمیږي.

❂ د خوارجو او معتزلو[5] په اند ایمان له قول (وینا)، عمل، او اعتقاد څخه عبارت دی، چې هیڅ راز زیادت او کمی نه قبلوي، د هغه په نېز ایمان داسې مجموعه ده چې که یوه برخه یې زایله شي ټول ایمان له منځه ځي.

(١) اهل سنت هغه چا ته ویلی شي چې د نبوي سنتو کلک پابند وي او پرې راټول وي، په علمي او عقیدوي او په عملي حکمي کارونو کې په سنت باور لري او اهل جماعت ورته ځکه ویل کیږي چې ټول سره په دغې عقیدې راټول دي.

(٢) خوارج هغه څوک دي چې د لوي ګناهونو مرتکب کافر بولي، د ظلم او استبداد په ټولواکانو خروج روا ګڼي او عقیده لري چې د لوي ګناهونو مرتکبین به د همېشه لپاره په اور کې وي.

(٣) مرجئه هغه خلک دي چې وايي: ګناه د انسان ایمان ته هېڅ ضرر نه رسوي، دوی د تابعینو په وخت کې ظهور وکړ او عقیدوي بدعتونه یې شروع کړل، خپل منځ کې سره ډېر ډلې ټپلې لري، مشهور یې غلاة مرجئه دي چې وايي: ایمان یواځې د خالق پېژندل دي او بس او ځینې د عراق مرجئه دي چې وايي: ایمان د زړه تصدیق ته ویل کیږي، ظاهري او باطني عملونه له ایمان برخه نه بولي لکن د واجباتو په کولو او له حرامو څخه په ژغورلو عقیده لری چې که څوک دغسې ونه کړي نو سزا سره به مخ شي.

(٤) دوی هم د مرجئو یوه ډله او په (ترمذ) چې د ایراني خراسان برخه ده پکې راښکاره شول، د جهم بن صفوان پېروکار دي او په افعال العباد کې جبریه دي.

(٥) معتزله د واصل بن عطا پیروکار دي او معتزله ورته ځکه ویلی شي چې د حس بصري ﵀ له حلقې څخه جلا شول.

د دغې عقيدې په بنا خوارج هم د غټې ګناه مرتکب دنيا کې په کافر نوموي او په اخرت کې يې په جهنم کې په ابدي توګه د اوسېدو قايل دي.

همدا راز يې معتزله هم په دنيا کې مؤمن نه بولي بلکې د دواړو منزلونو (پړاو) تر منځ يې په يوه منزله کې بولي چې د ايمان له دائرې څخه خارج او په کفر کې لا داخل نه دی، خو په اخرت کې يې په ابدي توګه په جهنم کې قائل دي، دوی هم په اخروي حکم کې د خوارجو سره يو څېر دي.

اما د اختلاف بل اړخ مرجئه دي، دوی د ايمان او کفر په هکله په خپل انحراف کې په درجو او مراتبو تقسيم شويدي چې په لاندې توګه يې يادونه کېږي:

١ غلات او افراطيان: چې له جهميه وو څخه عبارت دي، دوی انګيري چې ايمان يواځې د الله پاک پېژندګلو ده او بر عکس کفر د الله پاک نه پېژندل دي.

ابليس او فرعون او نور هغه کافران چې د الله پاک په وجود اقرار کوي او منکر نه دي، د دوی باطل بنسټ له مخې ستر مؤمنان بللی شي.

په امانياتو کې دا ډېر قبيحه مذهب او شنيع ترين اختيار دي، هېره دې نه وي چې دا نظريه د خالصو مرجئو مذهب او مسلک دی.

٢ اشعريه او متکلمين[١]: دوی د ايمان په هکله داسې انګيروي چې

(١) اشعريه اسلامي کلامي ډله ده چې ابوالحسن اشعري ته يې نبست کيږي، هېره دې نه وي چې اشعري د معتزلوو په ضد راپورته شوی و، د معتزلو او فلاسفوو په ضد اشعريه په ډېرو عقلي او منطقي دلائلو دليل بازي کوي او زيار باسي چې د ابن کلاب په څېر ديني حقائق او اسلامي عقيده په فلسفي دلائلو ثابته کړي.

ایمان یواځې او خالص تصدیق ته ویلی شي، بر عکس کفر تکذیب ته ویل کیږي او یا اشد تکذیب لکه حجود ته هم کفر ویل کیږي.

٣ کرامیه[۱]: دوی ایمان خالص د ژبې وینا او اقرار ته وايي او په ګومان یې کفر د کلمې نه تلفظ ته ویل کیږي.

٤ په مرجئو کې اخف ترینه طائفه فقهاء مرجئه یا (د عراق مرجئه دي) چې وايي: ایمان د ژبې تلفظ او د زړه تصدیق ته ویل کیږي، د دوی نقص په دې کې ښکاره دی چې عمل د ایمان برخه (جزء) نه شمیري (یعني عمل یې له ایمان څخه ویستلی دی).

په دې اساس چې ته له خطا څخه سالم پاتې شې په تا لازم دي چې د ایمان په هکله د أهل السنت و الجماعت او د هغوی د مخالفینو تګلارې او ویناوې وپیژنې، تر څو په سمه توګه له کجروی څخه قولا، عملا او قصدا روغ رمټ پاتې شې.

---

(۱) دوی د محمد بن کرام چې په (۲۵۵) کې وفات دی نسبت لري، په صفاتو کې مشبه او په ایمان کې مرجئه دي، خپل منځ کې سره نوري ګڼ شمېر ډلې ټپلې هم لري.

# د اهل السنت والجماعت او د مخالفینو په نېز یې د کفر معنی

الحمدلله دا بحث او څېړنه په اصل کې د (ایمان تعریف او ارکان، د ایمان زیادت او نقصان، د ایمان او اسلام سره په خپل منځ کې علاقه چې کله سره یو کېږي او کله جلا کېږي) د علمي بحث نچوړ دی.



# د موضوع اهمیت

۱ د کفر د بیانولو د موضوع اهمیت د کفر څخه په ځان ژغورنه او ورځخه په ځان لرې کولو کې پټ دی، کفر په دنیا او اخرت کې د انسان لپاره د بدبختۍ او شقاوت نښه ده(۱).

همداراز کفر له سترو ګناهونو چې زیانمنې ستونزې او تر ټولو سرغړونو لوی او غټ اغېز لري شمیرل کېږي.

کفر هغه ستونزه ده چې الله پرست وګړي ورځخه په کلکه ځان ژغوري او ورځخه ډېر ویرېږي.

د کفر موضوع قراني ایاتونو او نبوي حدیثونو په ښه انداز کې څېړلې ده، د نمونې په توګه لاندې ایاتونه دیادونې وړ بولم:

(أ) الله تعالی فرمايي:

(۱) الله پاک قران کریم کې فرمايي: ﴿فَمَنِ ٱتَّبَعَ هُدَايَ فَلَا يَضِلُّ وَلَا يَشۡقَىٰ﴾. ترجمه: زما د هدایت پیروکاري چې څوک کوي نه به بې لارې شي او نه به بدبخته وي. همدارنګه رب کائنات فرمايي: ﴿وَمَنۡ أَعۡرَضَ عَن ذِكۡرِي فَإِنَّ لَهُۥ مَعِيشَةٗ ضَنكٗا﴾. ترجمه: په دنیا کې چې څوک زما له ذکر او یاد څخه مخ واړوي نو ژوند به تنګ او لنډ وي - دا یې دنیوي عذاب شو او اخروي شقاوت یې الله داسې اشاره کړې ده: ﴿وَنَحۡشُرُهُۥ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ أَعۡمَىٰ ﴿١٢٤﴾ قَالَ رَبِّ لِمَ حَشَرۡتَنِيٓ أَعۡمَىٰ وَقَدۡ كُنتُ بَصِيرٗا ﴿١٢٥﴾ قَالَ كَذَٰلِكَ أَتَتۡكَ ءَايَٰتُنَا فَنَسِيتَهَاۖ وَكَذَٰلِكَ ٱلۡيَوۡمَ تُنسَىٰ ﴿١٢٦﴾ وَكَذَٰلِكَ نَجۡزِي مَنۡ أَسۡرَفَ وَلَمۡ يُؤۡمِنۢ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِۦۚ وَلَعَذَابُ ٱلۡأٓخِرَةِ أَشَدُّ وَأَبۡقَىٰٓ﴾. او دقیامت په ورځ به یې ړوند راپاڅوو، هغه به وایي: ای زما ربه! ولې ړوند راپاڅولم او زه خو په سترګو روغ وم، الله به ورته ووایي: تا زموږ ایتونه هېر کړي و نن موږ هم درسره د هېر معامله وکړه، همدغه د هېر معامله موږ د ټولو هغه خلکو سره کوو چې زیاتی یې کړی وي او د خپل رب په ایتونو یې ایمان نه وي راوړی او د اخرت عذاب ډېر سخت او دوامداره دی. (ژباړن).

﴿وَمَن يَكۡفُرۡ بِٱلۡإِيمَٰنِ فَقَدۡ حَبِطَ عَمَلُهُۥ وَهُوَ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ﴾ [سورت مائده: ٥]

**ژباړه: او هغه څوک چې په ايمان باندې کفر وکړي په حقيقت کې سره د هغه ټول عملونه برباد شول، او په آخرت کې به له زيانمنو څخه وي.**

(ب) او الله تعالى فرمايي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ ءَامِنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَٱلۡكِتَٰبِ ٱلَّذِي نَزَّلَ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ وَٱلۡكِتَٰبِ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ مِن قَبۡلُۚ وَمَن يَكۡفُرۡ بِٱللَّهِ وَمَلَٰٓئِكَتِهِۦ وَكُتُبِهِۦ وَرُسُلِهِۦ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ فَقَدۡ ضَلَّ ضَلَٰلَۢا بَعِيدًا﴾ [سورت نساء: ١٣٦]

**ژباړه: اى هغه کسانو چې ايمان مو راوړى دى په الله پاک او د هغه په رسول او په هغه کتاب چې پرې يې نازل کړى دى او هغه کتاب چې ورڅخه يې مخکې نازل کړى دى پرې ايمان راوړئ او څوک چې په الله پاک او د هغه په ملايکو او کتابونو او د اخرت په ورځ د کفر عقيده وساتي، يقينا دغه په لرې ګمراهۍ باندې ګمراه شو.**

(ج) او الله تعالى فرمايي:

﴿وَمَن يَتَبَدَّلِ ٱلۡكُفۡرَ بِٱلۡإِيمَٰنِ فَقَدۡ ضَلَّ سَوَآءَ ٱلسَّبِيلِ﴾ [سورت بقره: ١٠٨]

**ژباړه: او څوک چې هم کفر د ايمان په بدل کې واخلي، په تحقيق سره چې له د روستې لارې څخه بې لارې شو.**

٢ د کفر د بيانولو د موضوع اهميت دا هم دى چې د کفر د عقيدې ساتونکي پايله به په اخرت کې په جهنم کې په ابدي توګه په حصاريدو تماتمه شي، په دوامداره توګه به ورته د اور عذاب ورکړل کيداى شي، دغه تأبيدي ژوند الله پاک په قران کريم په دريو ځايونو کې ذکر کړى دي:

(أ) الله پاک فرمايي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَظَلَمُواْ لَمۡ يَكُنِ ٱللَّهُ لِيَغۡفِرَ لَهُمۡ وَلَا لِيَهۡدِيَهُمۡ طَرِيقًا﴾ [سورت نساء: ١٦٨]

**ژباړه: يقينا هغه کسان چې کفر او ظلم يې کړی دی هېڅکله به ورته الله پاک بخشش ونه کړي او نه به ورته سمه صحيح لاره وښايي، مګر د جهنم لاره چې دوی به بيا په جهنم کې هميشه وي، او دغه الله پاک ته ډېره اسانه ده.**

(ب) او الله تعالی فرمايي:

﴿يَسۡـَٔلُكَ ٱلنَّاسُ عَنِ ٱلسَّاعَةِۖ قُلۡ إِنَّمَا عِلۡمُهَا عِندَ ٱللَّهِۚ وَمَا يُدۡرِيكَ لَعَلَّ ٱلسَّاعَةَ تَكُونُ قَرِيبًا ٦٣ إِنَّ ٱللَّهَ لَعَنَ ٱلۡكَٰفِرِينَ وَأَعَدَّ لَهُمۡ سَعِيرًا ٦٤ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدٗاۖ لَّا يَجِدُونَ وَلِيّٗا وَلَا نَصِيرٗا﴾ [سورت احزاب: ٦٣ - ٦٥]

**ژباړه: خلک له تا څخه د قيامت د ورځې اړوند پوښتنې کوي ورته ووايه يقينا د دغې ورځې اړوند معلومات الله پاک سره دي، او ته څه پوهيږې کېدای شي د قيامت ورځ زياته نزدې وي، او يقينا الله پاک په کافرانو لعنت کړی دی او د دوی لپاره يې جهنم تيار کړی دی، دوی به په جهنم کې په ابدي او دوامداره توګه وي او هېڅ راز کارساز او مرستندويه به ونه ګوري.**

(ج) او الله پاک فرمايي:

﴿وَمَن يَعۡصِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَإِنَّ لَهُۥ نَارَ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًا﴾ [سورت جن: ٢٣]

**ژباړه: او څوک چې هم د الله پاک له امر څخه سرغړونه اختيار کړي، يقينا چې د هغه لپاره به د جهنم اور وي او په ابدي توګه به هلته وي.**

په جهنم کې دتل پاتې کېدو اړوند د ګډي د راوستو مشهور حديث په دې باب کې هم لوی دليل دی.

سره له دې چې د کفر په عقيدې ساتلو الله پاک سخترين عذاب او سرمدي (هميشه) د جهنم زندګي ټاکلې ده، خو ولې الله پاک د دغې عذاب ترڅنګ کافرانو ته خپله غصه او نور سخت ترين عذابونه هم تيار کړي دي[1] چې د رسالې دا مختصر نمونه يې د توضيح او ذکر کولو اجازه نه ورکوي، زه هم يوازې د يو ايت په يادولو بسنه کوم:

الله پاک فرمايي:

﴿وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَهُمۡ نَارُ جَهَنَّمَ لَا يُقۡضَىٰ عَلَيۡهِمۡ فَيَمُوتُواْ وَلَا يُخَفَّفُ عَنۡهُم مِّنۡ عَذَابِهَاۚ كَذَٰلِكَ نَجۡزِي كُلَّ كَفُورٖ﴾ [سورت فاطر: ٣٦]

---

(١) که څه هم په دې برخه ډېر قراني ايتونو غربيدلي دي خو د فائدې لپاره به ترې نمونه د ياد وړ وبولو، په دې چې خبره ډېره اوږده نه شي له نبوي حديثونو څخه به صرف نظر شو، ځکه چې دا لويه موضوع ده.

١-: ﴿قُلۡ هَلۡ أُنَبِّئُكُم بِشَرّٖ مِّن ذَٰلِكَ مَثُوبَةً عِندَ ٱللَّهِۚ مَن لَّعَنَهُ ٱللَّهُ وَغَضِبَ عَلَيۡهِ وَجَعَلَ مِنۡهُمُ ٱلۡقِرَدَةَ وَٱلۡخَنَازِيرَ وَعَبَدَ ٱلطَّٰغُوتَۚ أُوْلَٰٓئِكَ شَرّٞ مَّكَانٗا وَأَضَلُّ عَن سَوَآءِ ٱلسَّبِيلِ﴾ (سورت مائده: ٦٠).

**ترجمه: پېغمبره! ورته وايه چې د سزا په اعتبار درته له دې هم په بدترينه بدله خبر نه درکوم، هغه ځوک چې الله پرې لعنت ويلی وي او پرې غصه شوی وي، شادوګان او خنزيران او د طاغوت بنده ګان يې ترې جوړ کړي وي، دغه خلک د درجې په اعتبار هم بد دي او له سمې صحيح لارې نه په کږه روان دي.**

٢-: ﴿وَيُعَذِّبَ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ وَٱلۡمُنَٰفِقَٰتِ وَٱلۡمُشۡرِكِينَ وَٱلۡمُشۡرِكَٰتِ ٱلظَّآنِّينَ بِٱللَّهِ ظَنَّ ٱلسَّوۡءِۚ عَلَيۡهِمۡ دَآئِرَةُ ٱلسَّوۡءِۖ وَغَضِبَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمۡ وَلَعَنَهُمۡ وَأَعَدَّ لَهُمۡ جَهَنَّمَۖ وَسَآءَتۡ مَصِيرٗا﴾ (سورت فتح: ٦).

**ترجمه: منافقانو سړو او ښځو او مشرکانو سړو او ښځو ته به الله عذاب ورکړي چې پرې بدګمانه وو، په دوی دې دغه بدګماني راوګرځي، په دوی د الله غضب او لعنت دی او ډېر بد ځای يې ورله تيار کړی دی.**

٣-: ﴿مَن كَفَرَ بِٱللَّهِ مِنۢ بَعۡدِ إِيمَٰنِهِۦٓ إِلَّا مَنۡ أُكۡرِهَ وَقَلۡبُهُۥ مُطۡمَئِنُّۢ بِٱلۡإِيمَٰنِ وَلَٰكِن مَّن شَرَحَ بِٱلۡكُفۡرِ صَدۡرٗا فَعَلَيۡهِمۡ غَضَبٞ مِّنَ ٱللَّهِ وَلَهُمۡ عَذَابٌ عَظِيمٞ﴾ (سورت نحل: ١٠٦).

**ترجمه: ځوک چې له ايمان وروسته په الله کفر وکړي مګر هغه ځوک چې په زړه کې يې ايمان وي او د کفر کلمه مجبوراً ووايي له دوی پرته په نورو د الله غضب، او د دوی لپاره لوی عذاب دی.**

**ژباړه: او هغه کسان چې کافران دي د هغوی لپاره به د جهنم اور وي په هغوی به هلته د مرګ پرېکړه نه کېږي او نه به ورڅخه عذاب سپک کړی شي مونږ هر يو کافر ته دغسې بدله ورکوو.**

۳ د کفر د موضوع د بيانولو بل اهميت دا هم دی چې کفر په دنيا او اخرت کې د انسان په رابطه په اسماؤ او احکامو[1] کې چې د ايمان مقابل قسم (نوعه) ده پېژندل دي، چې ايا دغه انسان مومن دی که کافر؟

(۱) دين اسماء او احکام لري خو د نبي کريم ﷺ د ملګرو په فهم به پرې ځان پوهوو تر څو له شريعت څخه کاږه لاړ نه شو. که د صحابه کرامو ﷺ په مفهوم اسماء او احکام ونه پېژنو نو د خوارجو په څېر به د اهل السنت والجماعت سره په جنګ ښکېل شو او د مرجئو په څېر به د مرتدينو سره روغه جوړه وکړو، دا چې باطلو ډلو تېپلو ايمان د ارکانو او اصولو په ځای په کمالاتو او ثمراتو او په صحت تعريف او محدود کړی دی له دې کبله يې ايمان له حقيقت هم ويستلی دی چې اعمال د ايمان ارکان نه بولي بلکې د ايمان کمال او ثمره يې بولي، له دې امله مرجئه د ايمان سره د معصيت په زيان نه دي قايل او ټول خلک سره يو څېر بولي خو ولې خوارج يې ضد د ايمان تبعيض نه قبلوي او وايي چې يا ټول شته کيږي او يا ټول له منځه ځي. د اسماوو او احکامو په مسئلو کې د کفر او ايمان پېژندل نهايت زيات اړين دي، ابن تيميه ﷬ وايي: د ايمان او کفر په څېر نور داسې نومونه نشته چې سعادت او شقاوت، مدح او ذم، ثواب او عقاب پسې تړل شوی وي. (مجموع الفتاوی: ۵۸/۱۳). له همدې کبله پکې خلک ډلې ټپلې شوي دي، ابن تيميه ﷬ وايي: زياتره متاخرين د سلفو دمذهب او دمرجئو او جهميو د اقوالو ترمنځ هېڅ توپير نه کوي، له دې کبله چې د دواړو اړخونو خبرې سره ګډې وډې شوي دي، زياتره يې په باطن کې د جهميو او مرجئو عقيده باوروي... (مجموع الفتاوی: ۳٦٤/۷). د اسماوو په څېر د احکامو (تفسيق، تبديع او تکفير) پېژندل هم ضروري دي، له شارع پرته هېڅ چا ته جواز نشته چې څوک کافر يا فاسق او يا بدعتي وبولي، ابن تيميه ﷬ وايي: له دې لامله اهل سنت او جماعت خپل مخالفين کافر نه بولي که څه هم ضد اړخ يې کافر بولي، تکفير چونکه شرعي مسله ده انسان يې انتقاماً چا ته نه شي استعمالولی، لکه په تا څوک دروغ ووايي ته به پرې دروغ نه وايې ځکه چې دروغ ويل هغه حقوق دي چې الله حرام کړي دي، دا څېر يې د نورو تکفير هم حرام کړي دي ځکه چې دا يک يواځې د الله حق دی، او دمعين شخص تکفيرول او قتلول د نبوي حجت پورې معلق دي، که يې مخالف وي کافر دی خو که مخالفت يې نه وي ښوولی نو د جهل په صورت کې کله هم څوک کافر کېدای نه شي. (الرد علی البکري: ۴۹۲/۲).

بیا په دغې نوم (اسلام یا کفر) باندې حکم مرتب کول چې ایا دغه انسان د جنت والو څخه دی او که د جهنم؟

که دا موضوع له خپلې باریکتیا او جلالت له بیان څخه بل هیڅ کوم اهمیت ونه لري نو د اسماؤ او احکامو (مومن یا کافر) مسئله یې د اهمیت لپاره کافي ده، د دې سره سره ځینې اسلام پوهانو په خپلو علمي لیکنو کې دې مسئلې ته التفات او کتنه کړې ده، او د ایمان په دواړو خواو (مرجئو او په معتزله او خوارجو) یې په علمې انداز سخت ردونه کړي دي[١].

له همدې کبله شیخ الاسلام ابن تیمیة ﷫ په کیلانیة کې د خپلې فتاوی په ضمن کې د کفر او تکفیر او د هوی پرستۍ، د کفر او تکفیر سره علاقه، د کفر اسباب او دواعي[٢]، او وروسته کې د مبتدعینو د منهج بیان کې وایي:

فصل: چې کله هم درته دغه تېر شوي مسائل واضح شول په دې پوهه شه چې تکفیر او تفسیق[٣] د اسماؤ (مومن یا کافر) او احکامو (چې مومن دی که کافر) له جملې څخه دي چې د اخروي وعد او وعید پورې تړاو لري.

په دنیوي ژوند کې د دیني دوستۍ او دښمنۍ، قتل، او عصمت پورې تړاو لري، په دې معنی چې الله جل جلاله جنت د مسلمانانو لپاره حلال او په کافرانو یې حرام کړی دی، او دغه په هر وخت او هر ځای هر اړخیزه احکام دي.

---

(١) د تکفیر او تفسیق مسئله حتی چې لومړي علماء کرامو هم د مبتدعینو په نورو ګمراهیو مخکې کړې او ښه څېړنه یې ورله کړېده، حتی چې دا مسئله یې د په تقدیر کې د جبر په عقیدې هم مخکې ګڼلې ده، تر دې د تکفیر مسئله یې په توحید الاسماء والصفات کې له تعطیل او او په قدر کې د جبر له بدعت هم لومړی قابل غور ګڼلې ده، د امام خلال د (السنة) په نوم د امام احمد ﷜ څخه په روایتونو کې دا ټول هر څه ډېر په توګه واضحه دي. (لیکوال)
(٢) د کفر اسباب او دواعي څه شی دي؟
(٣) تعریف؟؟

همدا راز ابن رجب الحنبلي[1] د جبریل ﷺ د (ایمان، اسلام، احسان) دحدیث په شرحه کې وایي: او دغه (د کفر او اسلام او نفاق) ستر او لوی مسائل دي ځکه چې الله جل جلاله پدغې نومونو پورې نیک بختي او بدبختي، د جنت او دوزخ مستحق ګرځیدل تړلې مسئلې تړلي دي.

لومړی هم د دې امت اختلاف د ایمان او د کفر په مسمیاتو کې واقع شوی دی، دغه اختلاف لومړی خوارجو د صحابو په حق کې وکړ، چې ګناهګاران مؤمنان یې په بشپړه توګه د اسلام له دائرې څخه وویستل او کافر یې وبلل، او په دنیاوي احکامو کې یې ورسره د کفارو په شان چلند روا وباله، په خپل تکفیر یې دهغوی وینه او مالونه یې ځان لپاره تحلیل کړل. (الکیلانیه: ۱۲/۴۶۸)

له دې فتنې وروسته معتزلوو اختلاف وکړ او د (منزلة بین المنزلتین) مقوله یې راوړه، له دې پړاو وروسته مرجئو غږ پورته کړ چې فاسق انسان پوره مسلمان او مؤمن دی.

د دغې فتنو دختمولو لپاره سمدستي د امت علماوو مخکښنیو او ورستنیو بې شماره لیکنې او زیات تصنیفات ولیکل.

دا هم د کفر او ایمان مهم اړخ دی چې روښانه یې په اهمیت دلالت کوي.

دې مسائلو ته کتنه، د دې مسائلو زدکړه، او په علمي بڼه یې په ښه توګه ادراک کول او په معلوم شخص د کفر، بدعت[2] او فسق فتوې ورکول،

---

(۱) نوم یې حافظ زین الدین عبدالرحمن د پلار نوم یې احمد او حسن لمسی دی او په ابن رجب حنبلي شهرت لري، په (۷۳۶هـ) کې پیدا او په (۷۹۵هـ) کې وفات دی.

(۲) د بدعت لغوي تعریف (بَدِعَ) معنی: له کومې نمونې پرته یې ایجاد کړ (ابْتِدِعَ) معنی: پخپل زیار یې د نوي شي ایجاد وکړ (بِدِعٌ او بَدِیْعٌ) هغه شی چې له نورو څخه لومړیتوب لري، په دې هکله الله پاک فرمايي: ﴿قُلۡ مَا كُنتُ بِدۡعٗا مِّنَ ٱلرُّسُلِ﴾. ژباړه: ورته ووایه چې زه خو څه په اسماني استازو کې

یاد هغه په پوره ایمان او یا په جنتیتوب او دوزخیتوب ګواهي ورکول، چې قرآني یا دنبوي نص یې په هکله نه وي غربېدلی، ځان ساتل د اهل السنت والجماعت اصلي قاعده او د عقیدې بنسټ دی.

نوی استازی نه یم. او بدعت په دین کې له بشپړېدو وروسته اضافه کاری ته ویل کیږي.
(أَبْدِعَ، اِبْتِدِعَ، تِبَدِعَ) معنی: نوی کار یې پیدا او ایجاد کړ چې وړاندې یې هېڅ نمونه نه لرله، په همدې هکله الله پاک فرمايي: ﴿وَرَهْبَانِيَّةً ٱبْتَدَعُوهَا﴾. ژباړه: او دوی ﴿بَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ﴾. له خپل ځا نه پېري ملنګي شروع کړېوه (بَدِّعَ) معنی: کار یې بدعت ته منسوب کړ (اِسْتِبْدِعَ) د بدعاتو له جملې څخه یې شمار کړ (بَدِيْعٌ) معنی: د تعجب او حېرانتیا وړ کار او (بَدِيْعٌ) د الله پاک نوم هم دی په دې معنی چې اسمانونه او ځمکې یې له هېڅ کومې نمونې پرته جوړ او پیدا کړي دي. د بدعت له دغې ګردو کلماتو څخه جوته شوه چې د [بَدِعَ] ماده په دین کې د خواهشاتو څخه راپېدا نوي کارونو ته ویل کیږي
هېره دې نه وي چې [اِبْتِدِاع] د الله پاک له پلوه له عدم څخه وجود ته د شیانو راستو ته ویل کیږي، په دې معنی چې د مخلوقاتو او ګردو شیانو پیدا کول یواځې الله پاک کوي، خو د مخلوق له لورې [اِبْتِدِاع] د الله پاک او د هغې د راستولي رسول په ضد د شیانو او عبادتونو رواجولو ته ویل کیږي، او دا د مذمت وړ دومره بد کار دی چې پوره پرې تمامه ده. امام أبو شامه وايي: د بدعت او مبتدع نومونه یک او یواځې په مذماتو کې راځي، خو ولې په لغوي بڼه دواړه کلمې د مدح او مذمت دواړو معناګانو ته شمول لرلی شي.
د بدعت اصطلاحي تعریف: امام جرجاني ﷺ وايي: بدعت په دین کې د هغې نوي رامنځ ته شوي کار نوم دی چې له صحابه کرامو ﷺ او تابعینو نه یې په صحت دروستوالی هېڅ اثر نه وي نقل شوی، او نه هم د کوم شرعي دلیل مقتضا او غوښتنه وي.ابن عابدین د بدعت په تعریف کې وايي: بدعت ضد د شک او شبهې یا استحسان په بنسټ علمي یا عملي داسې نوی کار رواجول چې ورته د قوي دین او نبغې لارې او په دیني احترام قایل وي. شاطبي ﷺ د بدعت تعریف داسې کوي: دین او اسلام ته په ورته والي کې د داسې لارې پیدا کول چې غاړه کېښودلو باندې پرې د الله پاک په عبادت کې مبالغه کول وي. په دې درېواړو تعریفونو کې واضح ترین او د مقصودونو په خورا بهترینه طریقه واضحه کونکې تعریف د شاطبي ﷺ تعریف دی، یو خو دا چې تعریف دومره واضحه او څرګندنه دی چې له یوې خوا خو اسان فهمه دی، او له بلې خوا پرې ټول احترازات له منځه بهر وځي. عز بن عبدالسلام ﷺ وايي: د داسې کار کول چې د نبي ﷺ څخه یې ثبوت هېڅ صحت نه لري.

# د کفر لغوي معنى

وړاندې مو د کفر د سمې پېژندنې اړتيا او په مسلمانانو له کفر څخه د ځان ساتلو او پر خپل ځان او دين د سلامتيا او بچ کېدو احتياط کول، د کفر د عاقبت او انجام څخه ځان ساتل مو ذکر کړل، اوس بايد په دې هم پوهه شو د لغت له مخې کفر څه شمېر معناګانې لري:

١ پټوالی او پرده پوشي

له همدې کبله الله پاک جل جلاله زميندار او د هقانه طبقه خلک په کفارو نومولي دي.

الله پاک فرمايي:

﴿كَمَثَلِ غَيْثٍ أَعْجَبَ ٱلْكُفَّارَ نَبَاتُهُۥ ثُمَّ يَهِيجُ فَتَرَىٰهُ مُصْفَرًّا﴾ [سورت حديد: ۲۰]

**ترجمه: په شان د حال د فائده مند باران چې زميندار لره خوشحالوي بوټي د دغې باران، بيا وچ شي نو ته وينې هغې لره تک زيړ....**

٢ رد او انکار کول

الله پاک فرمايي:

﴿فَلَمَّا جَآءَهُم مَّا عَرَفُواْ كَفَرُواْ بِهِۦۚ فَلَعْنَةُ ٱللَّهِ عَلَى ٱلْكَٰفِرِينَ﴾ [سورت بقره: ۸۹]

**ژباړه: پس هر کله چې دوی ته هغه څه راغلل چې دوی پېژندل نو انکار يې ورنه وکړ، په کافرانو دي د الله لعنت وي.**

يا لکه د نعمتونو له شکر ويستو څخه انکار کول، لکه الله پاک فرمايي:

﴿فَٱذۡكُرُونِيٓ أَذۡكُرۡكُمۡ وَٱشۡكُرُواْ لِي وَلَا تَكۡفُرُونِ﴾ [سورت بقره: ۱۵۲]

**ژباړه: پس تاسو ما ياد کړئ زه به تاسو ياده کړم، او زما احسان ومنئ او ناشکري مه کوئ.**

۳ براءت، بې زاري او انکار کول

لکه الله پاک د کافرانو په حال کې چې د قيامت په ورځ به د يو بل سره جګړې کوي فرمايي:

﴿ثُمَّ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ يَكۡفُرُ بَعۡضُكُم بِبَعۡضٖ وَيَلۡعَنُ بَعۡضُكُم بَعۡضٗا وَمَأۡوَىٰكُمُ ٱلنَّارُ وَمَا لَكُم مِّن نَّٰصِرِينَ﴾ [سورت عنكبوت: ۲۵]

**ژباړه: بيا به د قيامت په ورځ ستاسو ځيني له ځينو نورو څخه انکار کوي او ځيني ستاسو به په نور ځينو لعنت وايي او ستاسو ځای به اور وي او ستاسو لپاره به هيڅ مدد ګار نه وي.**

# د کفر شرعي معنى

اما د کفر خپله شرعي او اصطلاحي معنى د قران او حديث په نصوصو کې داسې وارده ده چې کفر د ايمان نشتوالي او ايمان د کفر نشتوالي ته يا په شرک او ردت کې واقع کېدلو ته کفر وايي.

ايمان او کفر په خپل منځ کې سره د يو بل ضد دي، چې کله هم په بشپړه توګه يو (ايمان يا کفر) حاصل شي دوهم له منځه ځي، ولې که يو ناقص موجود شي نو ضد ورسره هم د نقص په اندازه موجودېږي.

شيخ الاسلام ابن تيمية چې په خپل علم، فهم او رسم کې د سلفو صالحينو په منهج و، دا عقيدوي مسئله يې په خپلو بېلابېلو ليکنو کې په ځانګړې پاملرنې په پوره توګه واضحه کړې ده چې ځينې خبرې يې زه په لاندې توګه تاسو ته رانقلوم:

١ شيخ الاسلام ابن تيمية رحمه الله په خپلې فتاوى (٢٠/٨٦) کې وايي: د مسلمانانو په اتفاق کفر د ايمان نشتوالي او عدم موجودګۍ ته ويل کيږي، که د ضد (ايمان) عقيده ساتي او که نه يې ساتي، تکلم پرې کوي او که نه خو د ايمان نشتوالي ته کفر ويل کيږي.

د اهل السنت والجماعت چې ايمان ظاهري او باطني قول او عمل بولي په تيره مسئله کې د هغه چا سره اختلاف نه لري چې ايمان يواځې اعتقاد بولي لکه جهميه او زياتره اشاعره او يا يې هم يواځې د ژبې اقرار بولي

لکه کرامیه او یا هم هغه څوک چې ایمان د زړه اعتقاد او د ژبې اقرار بولي، لکه فقهاء مرجئه او ځینې اشاعره، د مالکیانو مجتهدینو فقهاوو، شافعیان، حنبلیان او عام صوفیه، سنّي متکلمین او د خوارجو او معتزله وو متکلمین ټول د اهل حدیثو سره په دې متفق دي چې په چا د رسالت حجت قائم شي او ایمان پرې ونه لري کافر دی.

هېڅ فرق نشته که مکذّب کافر وي او که شکي کافر وي، معرض وي او که متکبّره وي، متردّد وي او که بل څه وي.

شیخ الاسلام ابن تیمیة رحمه الله څرګنده کړه چې کفر عقیدوي هم کېدای شي او غیر عقیدوي هم کېدای شي[1].

کفر یواځې په تکذیب کې منحصر نه دی بلکې کفر د شک او شبهې د اعراض او استکبار او همدا راز د تردد له لارې هم راځي[2].

---

(۱) کفر درې بنسټیز ډولونه لري چې ګرد ډولونه یې په دې کې راټول دي:

**لومړی**: عقیدوي مکفِرات: دا هغه عقیده ده چې په ایماني ارکان یې تنقیص شي او یاهم د اسلامي صحیحو معتقداتو سره ضد د نور څه عقیده ولرل شي لکه: له پروردګار نه انکار کول، یا یې کمالي صفتونه نه منل، یا د تثلیث عقیده لرل، یا د پېغمبرانو له نبوت څخه انکار کول، یا د ایمان له کوم رکن څخه انکار کول، جنت یا درزخ نه منل او نور هغه منصوصي شیان چې په دین کې ثبوت شوی او انکار ترې کفر ګڼل کیږي.

**دوهم**: قولي مکفرات: لکه د کفر په عقیده اقرار کول، له اسلامي عقایدو څخه منکریدل، په دین پسې ملنډې او مسخرې کول.

**دریم**: عملي مکفرات: داسې کارونه کول چې په کفر ښکاره دلیل وي، لکه د سپکې نظریې له مخې قران کریم څیرل، یا یې په ګندګۍ کې غورځول، بوتانو ته سجدې کول، په سینه صلیب راځړول او داسې نور... (العقيدة الاسلامية وأسسها: ٦١٧) د عبدالرحمن حبنكة الميداني لیکنه.

(۲) کفر څه شمېر ډولونه لري چې د دلائلو په شمول یې قابل ذکر بولو:

۱-: د تکذیب کفر: الله پاک فرمایي: ﴿ وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا أَوْ كَذَّبَ بِالْحَقِّ لَمَّا جَاءَهُ ۚ أَلَيْسَ فِي جَهَنَّمَ مَثْوًى لِلْكَافِرِينَ ﴾ [العنکبوت: ٦٨]. ژباړه: له هغه چا نه بل لوی ظالم څوک

دی چې په الله دروغ وتړي او يا حق ته د دروغو نسبت وکړي، ايا په جهنم کې د کافرانو لپاره ځای نشته؟

۲-: د انکار او لويي کفر: الله پاک د ابليس متعلق فرمايي: ﴿وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَٰٓئِكَةِ ٱسْجُدُواْ لِءَادَمَ فَسَجَدُوٓاْ إِلَّآ إِبْلِيسَ أَبَىٰ وَٱسْتَكْبَرَ وَكَانَ مِنَ ٱلْكَٰفِرِينَ﴾ [البقرة: ٣٤]. ژباړه: مونږ چې کله ملائکو ته وويل چې ادم عليه السلام ته سجده وکړئ، ټولو سجده وکړه خو ابليس سجده ونه کړه انکار او تکبر يې وکړ او د کافرانو له جملې څخه شو.

۳-: د شک کفر -چې د پېغمبرانو يا اسماني کتابونو په صدق کې شکي وي- الله پاک فرمايي: ﴿وَدَخَلَ جَنَّتَهُۥ وَهُوَ ظَالِمٌ لِّنَفْسِهِۦ قَالَ مَآ أَظُنُّ أَن تَبِيدَ هَٰذِهِۦٓ أَبَدًا ﴿٣٥﴾ وَمَآ أَظُنُّ ٱلسَّاعَةَ قَآئِمَةً وَلَئِن رُّدِدتُّ إِلَىٰ رَبِّى لَأَجِدَنَّ خَيْرًا مِّنْهَا مُنقَلَبًا ﴿٣٦﴾ قَالَ لَهُۥ صَاحِبُهُۥ وَهُوَ يُحَاوِرُهُۥٓ أَكَفَرْتَ بِٱلَّذِى خَلَقَكَ مِن تُرَابٍ ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ ثُمَّ سَوَّىٰكَ رَجُلًا ﴿٣٧﴾ لَّٰكِنَّا۠ هُوَ ٱللَّهُ رَبِّى وَلَآ أُشْرِكُ بِرَبِّىٓ أَحَدًا﴾ [الکهف: ٣٥-٣٨]. ژباړه: خپل باغ ته په داسې حالت کې ننوت چې د ځان سره ظالم و، او ويويل: ګومان نه کوم که باغ مې برباد شي او ګومان مې هم نه شي که قيامت راشي، خو که بيا هم رب ته مې ورشم له دې څخه به ورسره مزيد ډېر څه ووينم (واخلم)، ملګري يې ورته وويل چې ايا تا په هغه ذات کفر وکړ چې له خاورې څخه، بيا يې له نطفې څخه راپيدا کړې او سم دم انسان يې درنه جوړ کړ؟ زما رب خو الله دی زه ورسره هېڅ شی نه شريکوم.

٤-: د اعراض کفر: چې نه دين زده کوي اونه يې اوري اونه يې چا ته ښايي، الله پاک فرمايي: ﴿وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ عَمَّآ أُنذِرُواْ مُعْرِضُونَ﴾ [الأحقاف: ٣]. ژباړه: او هغه خلک چې په څه ورته وېره ورکړې شي کفر کوي او اعراض ترې کوي.

٥-: د نفاق کفر: له دې څخه اعتقادي کفر مراد دی چې په زړه يې کفر او په خوله يې اسلام وي، الله پاک فرمايي: ﴿ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ ءَامَنُواْ ثُمَّ كَفَرُواْ فَطُبِعَ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ فَهُمْ لَا يَفْقَهُونَ﴾ [المنافقون: ٣]. ژباړه: دا ځکه چې دوی ايمان راوړ او بېرته يې کفر وکړ، په زړونو يې مهر ولګېد دوی بيخي نه پوهيږي.

٦-: د کنځلو او ملنډو کفر: لکه څوک د الله پسې -نعوذ بالله- يا پېغمبر پسې يا د دين بلې شعېرې پسې ملنډې ووهي يا ورته کنځل وکړي، الله پاک فرمايي: ﴿وَلَئِن سَأَلْتَهُمْ لَيَقُولُنَّ إِنَّمَا كُنَّا نَخُوضُ وَنَلْعَبُ قُلْ أَبِٱللَّهِ وَءَايَٰتِهِۦ وَرَسُولِهِۦ كُنتُمْ تَسْتَهْزِءُونَ ﴿٦٥﴾ لَا تَعْتَذِرُواْ قَدْ كَفَرْتُم بَعْدَ إِيمَٰنِكُمْ إِن نَّعْفُ عَن طَآئِفَةٍ مِّنكُمْ نُعَذِّبْ طَآئِفَةًۢ بِأَنَّهُمْ كَانُواْ مُجْرِمِينَ﴾ [سورت توبه: ٦٥-٦٦]. ژباړه: که پوښتنه ترې وکړې نو درته وايي به: مونږ خو ټوکې ټکالې کولې، ورته ووايه چې ايا تاسو په الله او د هغه په ايتونو او رسول باندې ټوکې ټکالې کوئ؟ بانې مه کوئ تاسو له ايمان راوړو وروسته بېرته کافران شوي ياست، که ستاسو له ځينو درګزري وکړو نو نور ته به مو هرومرو عذاب په دې ورکړو چې مجرمان دي.

٢ ابن القیم رحمه الله چې د شیخ الاسلام ابن تیمیه پیاوړي شاګرد دی په خپل کتاب (الصلاة: ٥٣) کې وايي: کفر او ایمان سره په خپل منځ کې ضد دي، که یو په کامله توګه له منځه ولاړ شي پرځای یې بل باقي پاتې شي.

٣ شیخ الاسلام ابن تیمیة رحمه الله په خپل کتاب درء التعارض (١/٢٤٢) کې د متکلمینو په نیز د تکفیر په اصولو کې رداً وايي: چې که چا د عقل ضد کار وکړ کافر شو، بلکې کفر د نبي ﷺ په خپلو ویناګانو کې تکذیبولو ته ویل کیږي، له پیروۍ څخه یې په ځان ژغورنه کې که څه هم یې په تصدیق عقیده ولري لکه فرعون او یهود او د هغوی په څیر نور خلک، نو څرګنده شوه چې کفر کله تکذیب وي او کله له تکذیب پرته بل ډول هم کیدای شي.

تر دي چې د نبي ﷺ له پیروۍ څخه ځان رابندول هم کفر دی، اګر که

٧-: د بغض کفر: چې څوک د الله د دین څه شی مبغوض وګڼي، الله پاک فرمايي: ﴿ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَرِهُوا۟ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأَحْبَطَ أَعْمَـٰلَهُمْ﴾ [سورت محمد: ٩]. ژباړه: دا ځکه چې دوی هغه څه بد وګڼل چې الله رانازل کړي وي نو عملونه یې برباد شول.

٨-: د کافرانو سره موالات کول: خو موالات دوه ډوله لري:

١ - غیر کفري موالات. ٢ -کفري موالات.

غیر کفري موالات حرام دي خو انسان پرې نه کافر کیږي لکه د خپل هېواد کافر سړي لپاره تعصب کول، یا د ډلو ټپلو لپاره تعصب کول په دې سره د انسان ایمان کمیږي خو کافر کیږي پرې نه.

اوپه کفري موالاتو انسان کافر کیږي -نعوذ بالله- لکه د کافرانو سره رښتیا د زړه له تله مینه لرل او د هغوي دین خوښول، په مسلمانانو یې بریالي غوښتل او داسې نور، الله پاک فرمايي: ﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَتَّخِذُوا۟ ٱلْيَهُودَ وَٱلنَّصَـٰرَىٰٓ أَوْلِيَآءَ ۘ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ۚ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُۥ مِنْهُمْ﴾ [المائدة: ٥١] ژباړه: ای مومنانو! یهودیان او نصرانیان په دوستانې سره مه نیسئ، دوی سره خپل منځ کې د یو بل دوستان دي، که ستاسو څخه ورسره چا مینه ولرله نو په یقین سره د هغوی له جملې څخه به وي.

تکذیب ورسره نه وي، څکه چې فرعون د موسی علیه الصلاة والسلام صداقت پېژنده لکه الله رب العالمین د هغوی په هکله فرمایي:

﴿وَجَحَدُواْ بِهَا وَٱسْتَيْقَنَتْهَآ أَنفُسُهُمْ ظُلْمًا وَعُلُوًّاۚ فَٱنظُرْ كَيْفَ كَانَ عَـٰقِبَةُ ٱلْمُفْسِدِينَ﴾

[سورت نمل: ١٤]

**ژباړه: په ډېر او تکبر فرعون د موسی د حقانیت نه انکار وکړ، او زړونو او نفسونو یې حقانیت تاییده و، وګوره چې د ورانکارو انجام څنګه وي؟**

همدا راز الله پاک د سورت اسراء په اخر کې فرمایي:

﴿قَالَ لَقَدْ عَلِمْتَ مَآ أَنزَلَ هَـٰٓؤُلَآءِ إِلَّا رَبُّ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ بَصَآئِرَ وَإِنِّى لَأَظُنُّكَ يَـٰفِرْعَوْنُ مَثْبُورًا﴾ [سورت اسراء: ١٠٢]

**ژباړه: او وویل موسی یقینا ته پوهیږې چې نه دي نازل کړي دا ایتونه مګر رب دا اسمانونو او ځمکو، دلیلونه دي د راښکاره کولو دتوحید، او زما په تا د تباه کړی شوي ګومان دی.**

همداراز یهود او اهل کتابو د نبي ﷺ صدق و صداقت پېژنده حتی چې د خپلو اولادونو څخه یې هم زیات پېژنده، لکه الله تعالی فرمایي:

﴿ٱلَّذِينَ ءَاتَيْنَـٰهُمُ ٱلْكِتَـٰبَ يَعْرِفُونَهُۥ كَمَا يَعْرِفُونَ أَبْنَآءَهُمْۖ وَإِنَّ فَرِيقًا مِّنْهُمْ لَيَكْتُمُونَ ٱلْحَقَّ وَهُمْ يَعْلَمُونَ﴾ [سورت بقره: ١٤٦]

**ژباړه: هغه کسان چې مونږ ورته کتاب ورکړی دی هغوی دا پیغمبر داسې پیژني لکه څنګه چې خپل بال بچ پیژني او بیشکه یوه ډله له دوی څخه خامخا حق پټوي او ښه پوهیږي.**

نو کفر چې څرنګه تکذیب کېدای شي دغه ډول د استکبار، د شک، د نفاق او د اعراض له لارې هم راځي.

٤ همدا راز شيخ الاسلام ابن تيمية ﵀ كيلاني په لومړيو (۳۳٥/۱۲) کې وايي:
کفر په الله پاک او د هغه په رسول نه ایمان لرلو ته ویل کیږي، که د ایمان نه لرلو سره تکذیب وي او که نه وي، یا شک او ریب وي او که نه وي او یا ورڅخه حسداً او تکبراً اعراض وکړي، یا د نبي ﷺ له پیروۍ پرته د هوا پرستۍ اتباع وکړي، دې ټولو ته کفر ویلی شي.

که څه هم درغجن کافر تر ټولو ستر کافر دی خو کافر چې کفر یې تکذیبي یا حسدي وي، د دې برسېره یې په رسولانو او اسماني استازو تصدیق یقیني وي هم کافر دی، ټول مکي سورتونه دغسي کافرانو خلکو ته په خطاب بوخت دي.

# د کفر د مختلفو انواعو په هکله مهمې قاعدې

د قلبي، قولي او عملي کفر له ډولونو څخه مخکې دا قاعده چې د ګڼ شمېر نورو قواعدو او ضوابطو بنسټيزه قاعده ده يېژندل يې زيات اړين دي په دې قاعده علمي عبور لرل د اهل السنت و الجماعت د کفر او تکفير په موضوع کې د ښه علم لرلو بنسټيز لامل دی، د اهل السنت والجماعت قواعد په همدغې قاعدې ولاړې دي:

١ کفر اصطلاحي او خالص شرعي حکم دی چې مرجع يې د الله پاک جل جلاله کتاب او د نبي ﷺ صحيح ثابت سنت دي، هېڅکله يې بنسټ هوا پرستي او په چا بدګماني، سوء فهم او سوء ظن نه دی.

هغه څوک چې الله پاک او د هغه رسول ﷺ عيناً يا جنساً يا وصفاً کافر بولي وي د هغوی تکفير لازمي او فرضي کار دی، ورنه هغه څوک چې پرېې يې کفر نه وي کړی بايد ورته کافر ونه ويل شي، د شرعي صريح او صحيح استناد پرته د هيڅ چا په توان کې دا نشته چې ابتدءاً چاته کافر ووايي.

- د هغو له جملې څخه چې ورته په وحيي دلائلو کې د تعيين په شکل کافر ويلي شوي دي، ابليس، فرعون او ابولهب دي.

- د هغه کافرانو له جملې څخه چې د هغوی جنس الله پاک او د هغه رسول ﷺ کافر بللې دی ټول مشرکان، جنس يهودان، جنس نصاری، جنس مجوسيان، او د دوی په شان داسې نور....

۱ او د هغو له جملې څخه چې وصفا کافر بلل شوي دي په لاندې توګه دي:

الله پاک او د هغه کتاب او د هغه رسول ﷺ پسې مسخرې یا ټوقه کونکی، د الله پاک جل جلاله نازل شوي حکم پرته په بل څه فیصله کونکی[1]، ساحر، کاهن، د علم غیب دعوه کوونکی او داسې نور..

۲ کفر لکه د ایمان په څېر شاخونه او څانګې لري، لکه صحیحینو کې د ابوهریرة رضي الله عنه څخه روایت دی چې نبي ﷺ فرمايي: «الاِيْمَانُ بِضْعٌ وَ سَبْعُوْنَ شُعْبَةً أَعْلاَهَا قَوْلُ لاَ اِلَهَ الاَ اللهُ وَ أَدْنَاهَا اِمَاطَةُ الأَذَى عَنِ الطّرِيْقِ، وَ الْحَيَاءُ شُعْبَةٌ مِنَ الاِيْمَانِ». مرجع؟؟؟

**ژباړه: ایمان څه د پاسه اویا څانګې او شاخونه لري، لوړه او بهترینه څانګه يې د «لاَ اِلَهَ اِلاّ اللهُ» په کلمې تلفظ کول دي. او ادنی ترینه څانګه وریکې د لارې څخه د زیانمنو شیانو لرې کول دي، او حیا د ایمان له څانګو څخه یوه څانګه ده.**

همدا راز د بخاري او مسلم په بل روایت کې راځي چې رسول ﷺ فرمايي: «الاِيْمَانُ بِضْعٌ وسِتّوْنَ شُعْبَةً».

**ژباړه: رسول الله ﷺ فرمايي: ایمان څه د پاسه شپېته څانګې دی.**

لکه د ایمان په شان کفر هم راز راز او بیلا بیلې څانګې لري چې

(۱) باید خبر یاست چې که څوک په غیر الله فیصله وکړي او عقیده يې دا وي چې دلته داسې قانون رائج دی نو د عبدالله بن عباس رضي الله عنه په تفسیر دا ورکوټی کفر دی، لویه ګناه ده ایمان ترې خطره پیښېدای شي خو له دین څخه پرې انسان نه وځي، او که په غیر الله سره فیصلې باوجود د دې معتقد و چې له قران څخه په دې فیصله ډېره ښه ده، یا اوسمهال په قران فیصلې کول مناسب نه دي، یا قران د دې وخت سره هېڅ سمون نه خوري نو بیا پرې –نعوذ بالله– انسان له اسلام څخه ووځي او کافر کیږي، الله دې زمونږ د ایمانونو حفاظت وکړي.

قاعده او ضابط يې داده چې الله جل جلاله ورته په خپل کتاب يا نبي کريم ﷺ ورته په خپلو مبارکو ويناګانو کې کفر ويلی وي، په داسې حال کې بل هېڅ چا ورته کفر نه وي ويلي.

له همدې کبله امام ابن القيم ﷺ په خپل کتاب (الصلاة: ٥٣، ٥٤) کې ليکلي دي:

**فصل:** ا يمان او کفر پېژندلو بنسټ په دې مسئلو پوهه لرل دي، که ايمان او کفر په ښه توګه وپېژندل شي دايمان ثبوت او نفي په ښته توګه پېژندل کيږي، ځکه چې کفر او ايمان سره په خپل منځ کې ضد دي، چې يو هم پوره له منځه ولاړ شي بل يې ځاي کلک نيولی وي.

دا چې ايمان بنسټ او څانګې هم لري او هره څانګه په ايمان نومولی شي، لمونځ هم د ايمان څانګه ده، روژه، حج، او زکاة هم د ايمان څانګې دي.

همداراز باطني اعمال لکه حياء، توکل، د الله پاک جل جلاله څخه ويره لرل او ورته په هر څه کې رجوع کول هم د ايمان څانګې دي، تر دې چې دڅانګو پای کې د لارې څخه د زيانمنو شيانو لرې کولو باندې تمامې شي، ځکه چې دا هم د ايمان څانګه ده، بلکې له شروع څخه تر ختمېدو ټولې د ايمان څانګې او بېلا بېل شاخونه دي، دومره ده چې دځينو څانګو په زوال د ايمان زوال راتللی شي لکه د شهادت څانګه، او داسې څانګې پکې هم شته چې په پرېښودلو يې د ايمان زوال نه شي کېدی لکه په لاره کې د زيان رسونکو شيانو پرېښودل او هغه نه لرې کول.

هېره دې نه وي چې د دواړو تر منځ نورې څانګې هم شته چې خپل منځ کې سره پياوړې د شهادت څانګې پورې تړاو لري او له نورو څانګو نه

ورته نسبتاً نزدې دي، او ځينې څانګې يې د لارې د ضررناکو شيانو په لرې کولو پورې تعلق او تړاو لري او ورته نسبتا له نورو څخه نزدې دي.

د تېر په څېر کفر هم د بنسټ او زياتي کورنۍ څانګې لري، لکه څنګه چې د ايمان څانګې صريح ايمان و، دا راز د کفر څانګې هم صريح کفر دي، حيا د ايمان څانګه ده، بالعکس بي حيايي د کفر څانګه ده، رښتيا ويل د ايمان څانګه ده بالعکس دروغ ويل د کفر څانګه ده، لمونځ، روژه، زکاة، حج، د ايمان څانګې دي خو بالعکس پرېښودل يې د کفر څانګې دي، د الله پاک رالېږلي کتاب او نبوي سنتو باندې پرېکړه ايمان دی خو ولې بالعکس پرېکړه پرې نه کول کفر دی.

لکه څنګه چې پيروي او اطاعت د ايمان له څانګو څخه يوه څانګه ده، دا راز تمامې سرغړونې او ګرد ګناهونه هم د کفر له څانګو څخه څانګې دي.

**د ايمان څانګې په دوه ډوله دي:**

- قولي ايمان.
- فعلي ايمان.

**همدا راز کفر هم دوه څانګې لري:**

- قولي کفر.
- فعلي کفر.

لکه څنګه چې د قولي ايمان له څانګو څخه داسې څانګې شته چې په زوال سره يې د ايمان زوال منځ ته راځي، همدغه شان د فعلي ايمان په

ځانګو کې هم داسې ځانګې شته چې په زوال سره يې د ايمان زوال موجودېږي.

همدغه شان د کفر ځانګې هم واخله چې کفر پرې موجودېږي.

لکه څنګه چې اختياراً د کفر کلمه ويل کفر دی او د کفر ځانګه ده، دغه شان په فعلي کفر هم سړی کافر کېږي لکه بوتانو ته سجده کول، د قران کريم بې عزتي کول، او دا بنسټيز کفر دی چې نورې ځانګې هم لري.

**خو ولې دلته بل اصل هم شته هغه دا چې ايمان له عمل او قول څخه ترکيب شوی دی او قول په دوه قسمه دی:**

- د زړه وېناه، چې مضبوطه عقيده لرل دي.
- د خولې وېناه، چې د اسلام په کلمې تلفظ کول دي.

**همدا راز عمل هم په دوه قسمه دی:**

- د زړه عمل چې نيت او اخلاص دی.
- د اندامونو عمل.

چې کله هم دا څلور واړه په کلّي توګه له منځه ولاړ شي نو ايمان په هر اړه خيزه توګه له منځه ولاړ شي او هيڅ ترې پاتې نشي.

او چې کله د زړه تصديق له منځه ولاړ شي نو د ايمان باقي جزئيات هېڅ فائده نه ورکوي ځکه چې د عقيدې مضبوطوالي او نفعه رسولو لپاره د زړه تصديق شرط دی.

خو که د زړه عمل په هر اړخيزه توګه زايله شي او تصديق قلبي پاتې شي،

دلته اهل السنت والجماعت او مرجئه سره عقيدوي معرکه او اختلاف لري

اهل السنت سره يوه خوله دي چې په زړه تصديق نه کول ايمان د زوال سره مخ کوي، او يوازې د زړه تصديق د زړه عمل پرته په نفعه تماميداى نه شي چې محبت او انقياد دى.

لکه څنګه چې ابليس، فرعون او د هغه قوم، يهود او مشرکان د نبي ﷺ په تصديق قائل وو، او حتى سراً او جهراً به يې پرې اقرار کوو او دا به يې ويل چې نه دروغ وايي او نه ساحر دى، خو مونږه يې هيڅ کله پيروۍ ته غاړه نشو کېښودلى او نه ورباندې ايمان راوړلى شو.

کله چې ايمان د زړه د عمل د زوال سره زوال خوري نو دا هم نا اشنا ده چې ايمان د جوارحو لوى اعمالو سره زوال وخوري، بالخصوص هغه عمل چې د زړه نه يې ورسره محبت او انقياد نه وي او داسې عمل د عدم تصديق لوى لامل دى، لکه لږ مخکې تيرشول.

ځکه چې د جوارحو د سرغړونې نه د زړه سرغړونه منځ ته راځي.

ولي که زړه کې د احکامو پيروي منلى وى او ورته منقاد شوى وى نو ټولو جوارحو به يې پيروي په ځان منلى وى او ورته به منقاد شوى وى، خو د انقياد او پيروۍ ښخه سرغړونه دا معنى ورکوي چې زړه پرې تصديق نه کوي، او حالانکه د زړه تصديق د ايمان حقيقت دى.

ولي ايمان يواځې تصديق نه دى لکه مخکې يي په هکله بيان تېر شو.

بلکې ايمان د تصديق سره سره په خپل ښنګ کې انقياد او پيروي هم نيولي دي.

همدا راز هدايت يواځې د حق پيژندل نه دي بلکې د حق پېژندل او ورسره په ځنګ کې پيروي کول او غوښتنو ته يې لبيک ويل هدايت دی.

که څوک د هدايت پېژندګلو پسې وي او خپله پکې متابعت نه وي، دې ته پوره هدايت نه ويل کيږي، لکه ځنګه د ايمان نه لرلو سره تصديق ته پوره تصديق نه ويل کيږي، ورنه له پوروالي پرته هدايت ته هدايت او تصديق ويلی شي خو ناقص.

د دې بنسټ پوره زده کړه او خيال ساتنه ستا فرض دي.



# نیوکه او خبرداری

لکه څنګه چې کفر په خپل ذات کې کڼ شمیر څانګې لري نو بیرته په خپل منځ کې تفاوت او توپیرونه هم لري، هغه داسې چې کفر درجات نه بلکې درکات لري، چې له جملې څخه يې يو غټ کفر دی، لکه د الله جل جلاله او د هغه رسول یا کتاب ته سپکې سپورې ویل، او بل وړوکی کفر دی، لکه د مسلمان قتل یا ورته ګنځاوې کول، همدا راز په مړي باندې چغې سورې وهل.

لوی کفر سره بیرته په خپل منځ کې زيات توپيرونه لري، خو د کفر دواړه اړخونه (غټ او وړوکی) هم په خپل منځ کې مرتبې لري ځینې مراتب يې له نورو ځینو نه زيات ستونزمن او سخت اغیز لري.

له همدې کبله شیخ الاسلام ابن تیمیة ﵀ په خپلې فتاوی (۲۰/۸۱) کې وايي:

کفر هم په خپل منځ کې له يو بل څخه سخترين مقامات لري، هغه کافر چې اسلام ته د دروغو نسبت کوي له هغه کافر څخه سخت دی چې اسلام درواغ نه ګڼي ځکه چې لومړنی کافر د ایمان د پرېښودو سره په څنګ کې د بل منهي عنه (د منعه کړی شوي شي) ارتکاب هم وکړ چې تکذیب دی.

او هغه کافر چې د کفر او تکذیب سره د الله پاک او د هغه د رسول ﷺ او مؤمنانو بندګانو په خلاف په خپل لاس یا ژبه د مبارزې عملي

اقدام وکړي، دا کافر نسبتاً هغه کافر ته سخت دی چې يواځې په کفر او تکذيب يې بسنه کړې ده.

او که څوک د کفر د اختيارولو ترڅنګ قتل، زنا، غلا، جنګ، او جدل هم اختيار کړي نو دا بيخي اشد ترين جرم (کفر) دی.

## کفر په دوه ډوله دی:

١ چې سړی ورباندې د اسلامي دائرې څخه وځي او ورسره نيک او صالح عملونه هم ختميږي، او د جهنم په اور کې به په ابدي توګه تعذيبيږي.

څښتن ته يې په عامو نيکو عملونو هم بخشش نه کيږي، او د ايمان نوم ترې هم په هر اړخيزه توګه لرې کېږي، لکه سحر کول، الله پاک او د هغه رسول او کتاب ته ګنځاوې کول، يا يې له دين څخه اعراض کول، داسې نور....

٢ ورکوتی کفر چې سړی د اسلام له دائرې څخه نه وباسي او نه نيک عملونه بربادوي، او نه په ابدي توګه د جهنم په اور کې حصارول کوي، خو دومره ده چې ګناهګار د الله د مشيئت او ارادې لاندې وي، که الله پاک وغواړي نو ورته بخشش به وکړي يا به ورته عذاب ورکړي، خو د ايمان نوم ترې نه لرې کېږي، د دې ډول کفر په ارتکاب د ايمان د کمال سر ضد دی، او شرعي حکم يې هم د لويو ګناهونو حکم دی، لکه په مړي چغې وهل، مسلمان ته ګنځل کول، د مسلمان وژل، په نسبونو کې طعن لګول.

همدا راز شرک، ظلم، فسق هم په دوه ډوله دی، يو يې غټ او بل يې وړوکی دی دين او اسلام ته منسوب علماء په دې خبرو ډېر ښه پوهيږي،

زه ګمان نه کوم چې دې خبرې ته به څوک د شک په سترګه ګوري او یا به ورڅخه انکار کوي.

او د دې خبرې په تایید کې مو د امام ابن القیم رحمه الله قول د هغه له کتاب (الصلاة) څخه محکي نقلاً ذکر کړ.

٤ غټ کفر او غټ شرک دواړه سره په خپل منځ کې د عموم او خصوص علاقه لري چې هر شرک کفر دی خو ولې هر کفر شرک نه دی.

د الله پاک پرته دبل چا په نوم نذرونیاز او منښتې منل، ورڅخه د عبادت په توګه ویره ساتل لوی شرک دی، خو ولې غټ کفر هم دی، انسان ورباندې د اسلامي دائرې څخه بهر وځي، او دغه عمل په هر اړخیزه توګه د ایمان ضد او منافي عمل دی.

خو ولې الله، د هغه رسول ته، د هغه دین ته کنځل کول اوورته په سپکه کتل، یا د قران بې حرمتي کول یا دېته ورته نور د کفر اعمال کول لوی کفر دی چې سړی پرې له اسلام نه وځي، خو ولې په دیني احکامو کې ورته شرک نه ویل کیږي.

٥ د کفر کلمه د اسلامي شریعت په معتبرو مصدرونو (قران او حدیث) کې په دوه ډوله استعمال شوېده:

- چې (الف لام) ورباندې داخل شوی وي چې مقصد او مراد ترې معهود کفر او یا په کفر کې مستغرق مراد وي، او دا د کفر هغه ډول دی چې له اسلام څخه ویستل کوي.

- چې له (الف لام)، له اضافت او له تخصیص درېواړو څخه مجرد ذکر شوی وي، په دې صورت کې ورته کفر اکبر نه شي ویل کېدای،

بلکې ورته کفر اصغر ویل کیږي چې انسان د اسلام څخه نه وباسي.

لکه څنګه فرق چې د (کفر) خپل منځ کې لری دغه ډېر د (کفر مطلق) او (مطلق کفر) کې هم په غټه پیمانه توپیر پروت دی، دې مسئلې ته مو مخکې په لسم بحث کې د (ایمان مطلق) او د (مطلق ایمان) کې اشاره کړې ده.

همدغې مسئلې ته امام ابن تیمیة ﷺ په خپل کتاب (اقتضاء الصراط المستقیم: ۲۳۷/۱ - ۲۳۸) کې دا معنی تایید کړې ده، هغه وایي:

امام مسلم) رحمه الله (په خپل صحیح کې د اعمش په روایت له ابوصالح نه هغه له ابوهریرة ﷺ څخه روایت کوي چې رسول الله ﷺ فرمایي:

«اثنتان في الناس هما بهم كفر».

**ژباړه: دوه شیان دي چې وجود یې په خلکو کې کفر دی.**

یعنې دغه دواړه خصلتونه په خلکو کې د وجود په حالت کې کفر دی، نو ذاتا دغه دواړه خصلتونه په دې معنی کفر دی چې د کفارو کارونه دي، او دواړه خصلتونه په خلکو کې شته، خو معنی دا نه شوه چې په هر چا کې که د کفر دغه خویونه شتون ولري نو مطلق کافر به وي او د کفر حقیقت پرې قائم شو.

نو همدغه شان هغه انسان پوره مؤمن هم نشي جوړې دی چې وریکې فقط د ایمان یو خصلت موجود شي تر څو پرې د ایمان حقیقت قایم نه شي.

نو د ( کفر) او (الکفر) لفظونو تر منځ پدغه پیمانه فرق او توپیر موجود دی.

لکه نبي ﷺ فرمايي: «ليس بين العبد والكفر والشرک الا ترک الصلاة».

**ژباړه: د انسان او د کفر او شرک تر منځ د لمونځ پرېښودلو پرته بل توپير او فرق نشته.**

همداراز د ايمان مطلق او مطلق ايمان، يا د کفر مطلق او مطلق کفر تر منځ ستر توپير شته، لکه نبي ﷺ فرمايي: «لا ترجعوا بعدي كفارا يضرب بعضكم رقاب بعض».

**ژباړه: له ما خخه وروسته کفار مه جوړېږئ چې ځېني د نوروځېنو څټونه او سرونه وهي.**

**(يضرب بعضكم رقاب بعض)** د **(كفارا)** لپاره تفسير دی، نو معلومه شوه چې قاتل ته مقيداً کافر ويل کېدای شي خو ولې په اسم مطلق کې نه داخلیږي.

لکه الله پاک فرمايي:

﴿خُلِقَ مِن مَّآءٍ دَافِقٍ﴾ [سورت طارق: ٦]

**ژباړه: پيداشوی دی انسان له ټوپ وهونکو اوبو نه.**

نو دلته الله پاک د مني نطفې ته اوبه وويل خو ولې په اسم مطلق کې نه دي داخلې.

لکه الله پاک چې فرمايي:

﴿فَلَمْ تَجِدُواْ مَآءً فَتَيَمَّمُواْ﴾ [سورت نساء: ٤٣]

**ژباړه: که مو اوبه مينده نکړې نو تيمم ووهئ.**

٦ اهل السنت والجماعت د تکفير مسئله لويه مسئله بولي او ورځخه

ډېره کوي، د چا د تکفیرولو او نه تکفیرولو حق یواځې او یواځې الله پاک او د هغه رسول ﷺ ته سپاري.

د اهل السنة والجماعت هېڅ چا ته تر هغه کافر نه وايي تر څو الله پاک او د هغه رسول په کافر نه وي نومولي.

په همدغه خاطر امام) طحاوي رحمه الله په خپل د عقیدې کتاب کې چې خلکو ته ډېر مقبول دی وايي:

(مونږ اهل القبله د ګناه په ارتکاب تر هغه کافر نه بولو تر څو يې حلاله نه وي ګڼلې، او دا هم نه وايو چې د ایمان سره ګناه کول زیان نلري).

همدا راز امام ابن تیمیة رحمه الله هم په خپل کتاب (العقیدة الواسطیة) کې وايي:

**فصل:** د اهل السنة والجماعت له اصولو څخه دا هم دي چې ایمان قول او عمل دی، دزړه او ژبې وینا ده، او دزړه او ژبې او جوارحو عمل دی، ایمان په طاعت او پیروۍ کولو زیاتیږي خو په نافرمانۍ او سرغړونو سره کمیږي، او اهل السنة والجماعت د دې سره سره اهل القبلة د کبائرو په ارتکاب کافر نه بولي، لکه څنګه چې يې خوارج کافر بولي، بلکې د ګناهونو سره سره د ایماني ورورولۍ ثابت وي

خو ولي بدعتیان او هوا پرست طبقه خلک همیشه لپاره له تورونو او ننګونو پرته خپل ګرد مخالفین تکفیروي.

له همدې کبله امام ابن تیمیة رحمه الله په خپلې فتاوی کې وايي:

له دلیل پرته هیڅ چا ته د دې حق حاصل نه دی چې د مسلمانانو څخه د چا په تکفیر قایل شي، ولو که غلط او خطا شوي هم وي، د چا ایمان چې په یقین ثابت وي زوال يې هیڅکله په شک نه شي راتللی، بلکې ایماني

زوال يې هله راځي چې په کفر کې يې هېڅ شک پاتې نه شي او تر څنګ پرې اسلامي حجت قائم شي.

**فصل:** د دې قول قائل تکفيرول په هغه اصل بناء دي چې تنبيه ورکول پرې اړين دي، له دې کبله بدعتيانو ته کافرول د قول د نه تشريح په سبب د امت علماء سره پخپل منځ کې بېلابېل اقوال لري.

لکه څنګه چې همدغه اختلاف د مخکني او اوسني علماوو په دې کې هم واقع شوی دی چې ايا د کبيرې مرتکب ته مؤمن ويلی شي او که نه؟

خو ولې زياتره بدعتيان لکه خوارج، روافض، قدرية، جهمية، ممثلة د داسې عقيدو معتقد دي چې سراسر ګمراهي ده، که څه هم هغوی يې حق بولي او ټول خپل مخالفين کافر بولي.

د دوی د اهل کتابو سره قوي او پياوړی مشابهت په دې کې لري چې په کفر کوي او د خلکو سره ظلم کوي، او دوی هم چې په خبره يې سر خلاص نه شي سمدستي يې قائل کافر بولي.

د دې خلکو په مقابل کې نور هغه خلک دي چې داهل السنت والجماعت عقيده په لائقه توګه نه پېژني، يا يې ځينې برخه پېژني خو ولې له بلې برخې نه يې نا خبره وي، او نه هم د قران او حديث ضد بدعتونو مخنيوی کوي، او نه بدعتيان سزا وار کوي، او نه يې تقبيح بيانوي، شايد ددوی په ديني امورو کې خبرې اترې کول پسند نه بولي، او په پوره توګه يې مذمت بيانوي، په داسې درځونو کې د قران او حديث د مدلولاتو او د بدعتيانو هوا پرستو د اقوالو ترمنځ هېڅ توپير نه کوي، او يا يې دا دريځ وي چې د هر چا بايد عقيدوي احترام وشي، لکه څنګه چې علماء په ډېرو هغه مسائلو کې چې اجتهاد پکې روا وي د مجتهد د

خطا قول احترام هم ساتي، دا عقیده د زیاتره مرجئو او ځینې فقهاوو ده، دا صوفیانو او فلاسفوو عقیده ده.

لکه د لومړی عقیدې اثرات چې په هواپرستو متکلمینو کې هم لیدل کیږي، هېره دې نه وي چې دواړه خواوې د قران او حدیث څخه د راخستل شوې عقیدې څخه منحرف او خارجي دي. (الکیلانیه: ١٢/٤٦٦).

مقصد دا دی چې متبدعین که څه هم یو له بل څخه په اصولو او منهج کې سره توپیر خوري خو په ادنی مخالفت خپل مخالف تکفیروي.

برعکس اهل السنت والجماعت د خپل مخالف په تکفیرولو کې زیات احتیاط کوي، ځکه چې تکفیر شرعي حکم او د الله او د هغه د رسول ﷺ حق دی او دنیوي او اخروي ستونزمنه پایله هم لري.

له دې کبله اهل السنت والجماعت په هغه اقوالو کې چې کفر ترې لازمیږي یواځې بسنه نه کوي تر څو یې له قائل څخه داسې صریح کفر صادر شي چې شک او شبهه پکې نه وي.

او نه هم اهل السنت والجماعت د یو چا په تکفیرولو کې په شکونو شبهاتو، او نه هم په هواپرستۍ باور لري، بلکې اهل السنت والجماعت په داسې مواردو کې په ښکاره او څرګندو دلیلونو باور لري چې د الله پاک له پلوه پکې حکم راغلی وي.

٧ اهل السنت والحماعت د کفر مطلق او د کفر معین ترمنځ توپیر کوي، په غیر معیننو باندې اهل السنت والجماعت د کفر اکبر مطلقه عقیده لري، خو ولې په معین باندې د کفر په حکم کولو کې اهل السنت والجماعت شروط او ضوابط لري، له ډېر احتیاط او دیانت نه کار اخلي، ځکه هغوی وایي:

په معین باندې کفر په خپله واقع کیږي، په معین د کفر اکبر واقع کېدل هله سم دي چې حجت پرې په صحیح توګه واقع شي، ټول شکونه او شبهات ترې پورته شي.

دې مسئلې ته زیاته پاملرنه په نجد کې د دعوت رهبرانو شیخ محمد بن عبدالوهاب ﷺ او د هغه واره بچو او شاګردانو کړې ده، هغوی دا مسئله په ډېره ښه توګه واضحه کړېده او په تفصیلي اندازې بیان کړې ده، چې دومره وضاحت به شاید نور چا نه وي کړی، که دلته یې دعوتې خپرې راغونډې کړو وخت به ډېر ونیسي.

دلته یوې مسئلې ته بیداري په لازمي توګه پکار ده، او هغه دا ده: هغه کفر چې ورباندې انسان له اسلامي دائرې څخه وځي او ورڅخه ردت لازمیږي، درې مراحل لري چې یو له بل څخه توپیر خوري او هغه دادي:

- له شرعي دلایلو څخه معلومول چې د دغې جرم ارتکاب کفر اکبر دی.

- د جرم مرتکب ته د ټولو صحیح شرطونو په موجودیت او د کفر په ټولو موانعو د عدمیت او نشتوالي په مهال کافر ویل چې دغه کار په اصل کې د شرعي قاضیانو مهم او دنده ده.

- د مرګ څخه وروسته د جرم مرتکب اړوند په په دوزخي توب کلک نه ودرېدل، که څه هم په دنیاوي احکامو کې پرې دکفر حکمونه جاري کېدای شول.

والله اعلم



# پای

زه هم په پای کې د دې مسئلې په رابطه ټولو ورونو او طالب علمانو ته په دې ټینګار کول غواړم چې دې مسئله کې له زیاتې پاملرنې څخه کار واخلې، او دا مسئله د اهل السنت و الجماعت د غښتلې علماوو او محققینو له لیکنو او ویناګانو څخه د هغوی له سرچینو او مأخذونو په شمول واخلې، چې خپله هم په کې سره بېلابېلې نظریې ونه لرې، او د اهل السنت والجماعت د منهج او لارې نه پرته هېڅ شذوذ او مخالفت نه وي.

الله پاک دې ټولو مسلمانانو ته د دې مسئلې په اړوند د امادګۍ وسع او توان ورکړي، او الله پاک دې هغوی ته د سمې صحیح سیده لارې د هدایت توفیق ورکړي.

وصلى الله على محمد و اله وصحبه وسلم تسليما كثيرا





IslamHouse.com

www.IslamHouse.com IslamHouse.com IslamHouseEn IslamHouseEn

For more details visit
www.GuideToIslam.com

GUIDE TO ISLAM

contact us :Books@guidetoislam.com

Guidetolslam.org Guidetoislam1 Guidetoislam www.Guidetoislam.com

المكتب التعاوني للدعوة وتوعية الجاليات بالربوة

هاتف: ٠٠٩٦٦١١٤٤٥٤٩٠٠ فاكس: ٠٠٩٦٦١١٤٩٧٠١٢٦ ص ب: ٢٩٤٦٥ الرياض: ١١٤٥٧

ISLAMIC PROPAGATION OFFICE IN RABWAH

P.O.BOX 29465 RIYADH 11457 TEL: +966 11 4454900 FAX: +966 11 4970126

# د کفر شرعي حقيقت او مهم ضوابط

د کتاب په اړه: الكفر حقيقته الشرعية وضوابطه المهمة که څه هم د کتاب حجم کوچنی خو منځپانګه یې خورا ستره ده، لیکوال هڅې د هغو خلکو یاد کړی چې په دې باب کې یې قدمونه ښویدلي دي، قلمونه یې تېروتي او فهمونه یې ښویدلي دي، لیکوال ثابته کړې چې په کبیره تر هغه څوک نه کافر کېږي چې د حلیت عقیده یې ورې نه وي لرلې، د چا اسلام چې په یقین په تر ثبوت رسېدلی وي نو په شکونو نه ازاله کېږي، برسېره پر دې لیکوال هڅې د کفر ډولونه (د عناد کفر، استکبار کفر، د اعراض او د شک کفر...) د کتاب دلایل یې ترې خروبوي او د رنځور درمل دي، اوتر ثبوته یې رسولې چې تکفیر د بندګانو نه بلکې د الله حق دی، هېڅ چا سره نه ښايي چې په حقوقو یې ملنډې ووهي ورنه ازاري به شي او د خپل فسوق په اور کې به سوځي، کتاب ډېر اسان اسلوب لري چې هر لوستوال ترې ګټه پورته کولی شي، مذکور کتاب په یاده مسئله کې د لارې مشال دی، له الله څخه سلامتیا او هدایت غواړو هغه توفیق ورکوونکی او مرستندویه دی.




IslamHouse.com